# دَ يعقُوب عام خط

## سلام

١ ⑴ دَ خُدائے اَوُ دَ مالِک عیسیٰ مسیح غُلام دَ یعقُوب له طرفه، هغه دولسو
واړو قبیلو ته چه ځائے په ځائے اوسیږی، ټولو ته دِ سلام وی.

## ایمان اَوُ حکمت

⑵ اَئے زما ورُوڼو! هر کله چه تاسو په قِسما قِسم آزمیښتُونو کښے راګیر
شوئ نو ډیر په خوشحالئ ئے زغمئ. ⑶ ځکه چه تاسو ته معلُومه ده چه دا
ستاسو دَ ایمان په آزمیښت کښے صبر پیدا کوی. ⑷ اَوُ صبر خپل کار پُوره
کوی دَ دے دَ پاره چه تاسو پُوره اَوُ کامِلان شئ اَوُ په تاسو کښے دِ دَ هیڅ
خبرے کمے پاتے نهٔ شی. ⑸ خو که په تاسو کښے په چا کښے دَ حِکمت
کمے وی نو هغه دِ ئے دَ خُدائے نه غواړی چه بغیر دَ ملامتولو نه ئے هر چا ته
پُوره په فیاضئ ورکوی، نو هغهٔ ته به هم ورکولے شی. ⑹ خو سوال دِ په ایمان
سره کوی اَوُ هیڅ شک دِ نهٔ کوی ځکه چه شک کوُونکے دَ سمندر دَ هغه چپو په
مِثال دے کُومے چه دَ هوا په زور ښکته اَوُ پورته کیږی. ⑺ داسے سړے دِ دا
نهٔ ګڼی چه ګنی ما ته به دَ مالِک نه څهٔ په لاس راشی. ⑻ هغه سړے دوه زړیه
وی اَوُ هغه په خپلو خبرو ټینګ نهٔ وی.

## غریبی اَوُ امیری

⑼ غریب ورور دِ په خپله اُوچته مرتبه فخر وکړی، ⑽ اَوُ دولتمند دِ په خپل
ادنیٰ حالت، ځکه چه هغه به لکه دَ وښو دَ ګُل تیر شی. ⑾ ځکه چه دَ نمر په
راختو نمر تاؤجن وی چه واښهٔ اَوُ ګُلونه ریژوی اَوُ دَ هغے ښائیست نهٔ پاتے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېږی، دغه شان دولتمند به هم سره دَ خپل کاروبار دَ خاورو سره خاورے شی.

## آزمېښت اَؤ لمسُون

۱۲ بختور دے هغه سړے چه آزمېښت زغمی، هر کله چه هغه وآزمائیلے شو نو دَ ژوندُون هغه تاج به حاصلوی چه مالِک دَ خپلو مئینو سره وعده کړے وه.
۱۳ هر کله چه څوک وآزمائیلے شی نو دا دِ ونهٔ وائی چه "په ما دا آزمېښت دَ خُدائے دَ طرفه وو،" ځکه چه نهٔ خو خُدائے په بدئ آزمئیلے شی اَؤ نهٔ خُدائے څوک آزمئی. ۱۴ په حقیقت کښے هر سړے هغه وخت آزمائیلے شی کله چه دَ هغهٔ خپل بد خواهش په دوکه ورکولو هغه ونښلوی. ۱۵ نو بیا دَ هغهٔ بد خواهش اُمیدوار شی اَؤ گُناه ترے نه پیدا شی، اَؤ چه گُناه زیاته شی نو مرگ پیدا کوی.

۱۶ اَئے زما خوارِو ورُونړو! غُلېږئ مه. ۱۷ هر ښهٔ بخشش اَؤ هر کامِل اِنعام دَ آسمان نه راځی اَؤ دَ خُدائے نه مُوندلے کېږی چه دَ نمر سپوږمئ اَؤ دَ ستورو پیدا کوُونکے دے. په هغهٔ کښے نهٔ خو څهٔ تبدیلی راځی اَؤ نهٔ دَ گردش له عمل روښانه کېږی اَؤ نهٔ تیارهٔ کېږی. ۱۸ هغهٔ په خپله مرضئ مُونږ دَ حق کلام په وسیله پیدا کړلُو چه دَ هغهٔ په مخلُوقاتو کښے مُونږ یو قِسم ورُومبئ میوه شو.

## کلام آؤریدل اَؤ پرِ عمل کول

۱۹ اَئے زما ورُونړو! دا خبره تاسو ته معلُومه ده، نو هر څوک دِ په آؤریدو کښے تیز آو په وینا کښے قلاره اَؤ په غُصه کښے سوړ وی. ۲۰ ځکه چه دَ اِنسان قهر دَ خُدائے دَ صداقت کار نهٔ شی کولے. ۲۱ تاسو ځکه ټول پلیتوالے اَؤ دَ بدئ گند لرے کړئ، اَؤ هغه کلام ډیر په عاجزئ سره قبُول کړئ چه په زړهٔ کښے کرلے شوے اَؤ تاسو له خلاصُون درکولے شی.

۲۲ خو په کلام عمل کوُونکی جوړ شئ، نهٔ چه تش آؤریدُونکی چه ځان په دوکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ساتی. ﴿۲۳﴾ ځکه چه هغه څوک چه دَ کلام آؤریدُونکی دی اَؤ عمل پرې نۀ کوی، هغه دَ هغه سړی په شان دے څوک چه خپل شکل په آئینه کښې وګوری.
﴿۲۴﴾ هر کله چه هغه خپل ځان ووینی اَؤ لاړ شی نو سمدستی دا هیر کړی چه زۀ څنګه وم. ﴿۲۵﴾ خو کُوم سړے چه دَ آزادئ په کامل شریعت په غور سره ګوری، هغه به خپل کار کښې بختور وی، ځکه چه هغه چه څۀ واؤری نو هیروی ئے نه، خو عمل پرے کوی.

﴿۲۶﴾ څوک چه ځان دینداره ګنی اَؤ بیا هم خپله ژبه په قابُو کښې نۀ ساتی، هغه خپل ځان ته دوکه ورکوی، نو دَ هغۀ دینداری باطله ده. ﴿۲۷﴾ زمُونږ دَ خُدائے اَؤ پلار په نِزد خالصه اَؤ بے عیبه دینداری دا ده چه دَ یتیمانو اَؤ دَ کونډو دَ مُصیبت په وخت دَ هغوئ پالنه وکړئ اَؤ خپل ځان دَ دُنیا نه بے داغه ساتئ.

## دَ طرفدارئ په خلاف خبردارے

۲ ﴿۱﴾ اَئے زما ورُونړو! تاسو چه په مالِک عیسیٰ مسیح ایمان راؤړے دے څوک چه دَ جلال خاوند دے، نو بیا طرفداری مه کوئ. ﴿۲﴾ ولے چه که یو سړی دَ سرو زرو ګوته اَؤ ښائسته جامے آغوستے وی اَؤ ستاسو دَ عبادت ځائے ته راشی اَؤ یو غریب سړی په شلیدلو جامو کښې، ﴿۳﴾ نو تاسو دَ هغه ښائسته جامو دَ خاوند لحاظ کوئ اَؤ هغه ته ووایئ چه ”راځئ تاسو په دے سم ځائے کښې کښینئ،“ اَؤ غریب سړی ته ووایئ چه ”ته هلته ودریږه، یا زما دَ پښو دَ څوکئ سره کښینه“ ﴿۴﴾ نو آیا دا تاسو په خپلو کښې طرفداری ونۀ کړه؟ اَؤ دَ بدنیتئ مُنصفان نۀ شوئ؟

﴿۵﴾ اَئے زما خوږو ورُونړو! زما واؤرئ، ولے خُدائے دَ دے دُنیا خواران غوره کړی نۀ دی څۀ، یعنے هغه خواران چه دَ ایمان سره دولتمند دی، چه هغوئ دَ هغۀ سره په بادشاهئ کښې شریک شی، چه خُدائے دَ هغوئ سره لوظ کړے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چه ورسره مینه کوی؟ ﴿۶﴾ تاسو خو دَ غریب سړی سپکاوے وکړو. آیا دولتمند په تاسو ظلمُونه نهٔ کوی؟ اَؤ آیا هغوئ تاسو عدالتُونو ته نهٔ راکاږی؟ ﴿۷﴾ آیا هغوئ دَ هغه بزرګ په خوږ نُوم کُفر نهٔ غروی دَ چا نُوم چه تاسو ته درکړے شوے دے؟

﴿۸﴾ نو بیا هم که تاسو دَ کتابِ مُقدس په مُطابق هغه شاهی شریعت پُوره کوئ چه وائی چه : "دَ خپل ګاونډی سره دَ خپل ځان په شان مینه کوئ،" نو ښهٔ کوئ. ﴿۹﴾ خو که چرے تاسو طرفداری کوئ نو ګُناه کوئ اَؤ دَ شریعت له مخه مُجرمان یئ. ﴿۱۰﴾ ځکه چه چا چه په ټول شریعت عمل وکړو اَؤ صرف په یوه خبره کښے ئے هم خطا وکړه نو هغه په ټولو خبرو کښے ګُناه ګار شو. ﴿۱۱﴾ ځکه چه چا چه دا وفرمائیل چه "زِنا مه کوئ،" نو هغهٔ دا هم فرمائیلی دی چه "خُون مه کوئ"، نو که تاسو زِنا ونهٔ کړه ولے خُون مو وکړو، نو شریعت ماتوئ. ﴿۱۲﴾ اَؤ تاسو دَ هغه خلقو په شان کلام اَؤ عملُونه هم کوئ دَ چا چه به دَ آزادئ دَ شریعت په مُطابق اِنصاف کیږی. ﴿۱۳﴾ ځکه چه چا چه رحم ونهٔ کړو نو په هغهٔ هم دَ اِنصاف په مُطابق رحم نهٔ کیږی. بیا هم رحم په اِنصاف غالب راځی.

## ایمان اَؤ عملُونه

﴿۱۴﴾ اَئے زما ورُونړو! که څوک ووائی چه زَهٔ ایماندار یم خو عمل نهٔ کوی نو فائده ئے څهٔ؟ آیا داسے ایمان هغهٔ له خلاصُون ورکولے شی څهٔ؟ ﴿۱۵﴾ چه څوک ورور یا خور دَ جامو اَؤ دَ خوراک حاجتمند وی، ﴿۱۶﴾ اَؤ بیا هم تاسو ورته دا وایئ چه "په خیر لاړ شه، تود اَؤ موړ اوسه،" خو چه کُوم څیزُونه هغهٔ ته په کار وی، هغه ورنهٔ کړئ نو فائده ئے څهٔ؟ ﴿۱۷﴾ دغه شان ایمان هم دے، که دَ دے سره عمل نهٔ وی نو هغه ایمان مړ دے.

﴿۱۸﴾ بلکه څوک دا وئیلے شی چه "تهٔ اِیماندار یئے اَؤ زَهٔ عمل کوُونکے." ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ایمان بغیر دَ عمل نه ما ته څرګند کړه اَؤ زَۀ به خپل ایمان په عمل تا ته
څرګند کړم. (۱۹) تهٔ په دے خبره ایمان لرے چه خُدائے یکی یو دے. خیر دا ښهٔ
کوے! شیطانان هم دا ایمان لری اَؤ دَ ویرے نه رپیږی. (۲۰) خو اَئے بیکاره
سړیه! آیا تهٔ په دے هم نهٔ پوهیږے چه دَ عمل نه بغیر ایمان بے کاره دے؟ (۲۱)
نو هر کله چه زمُونږ نیکهٔ اِبراهیم خپل زوئے اِسحاق په قُربانګاه دَ قُربانی په طور
پیش کړو نو آیا هغه په عمل سره صادِق نهٔ شو؟ (۲۲) نو بیا تا وکتل چه ایمان دَ
هغهٔ دَ عمل سره یو ځائے اثر وکړو اَؤ دَ عمل سره ایمان کامل شو. (۲۳) اَؤ دَ
کِتاب مُقدس هغه کلام پُوره شو چه "اِبراهیم په خُدائے ایمان راوړو اَؤ دا دَ هغهٔ
دَ پاره په صداقت حساب شو،" اَؤ هغه خلیل الله وبللے شو. (۲۴) نو بیا تاسو
وینئ چه اِنسان تش په ایمان نه، بلکه په عمل صادِق کیږی.

(۲۵) هم دغه شان راحبے کنجرئ هم چه هر کله هغه جاسُوسان په خپل کور
کښے ایسار کړل اَؤ په بله لار ئے رُخصت کړل، نو آیا په عمل صادِقه نهٔ شوه؟

(۲۶) غرض دا چه څنګه چه بدن بغیر دَ رُوح نه مړ دے هم هغه شان ایمان هم
بغیر دَ عمل نه مړ دے.

## ژبه

۳ (۱) اَئے زما ورُونړو! له تاسو نه دِ ډیر اُستاذان جوړ نهٔ شی ځکه چه تاسو
خبر یئ چه مُونږ چه اُستاذان یُو، زیاته سخته سزا به مُومو. (۲) ځکه چه مُونږ
ټول اکثر غلطئ کوُو، که څوک په خپلو خبرو کښے غلطی نهٔ کوی نو هغه کامل
دے اَؤ ټول بدن په قابُو کښے ساتلے شی. (۳) هر کله چه مُونږ دَ قابُو کولو دَ
پاره دَ آسونُو په خُلو کښے قیزے اچوُو نو دَ هغوئ ټول بدن هم ګرځولے شُو.
(۴) ګورئ، سمندری جهازُونه اګر که ډیر لوئے لوئے وی اَؤ په تیزو بادونو
چلولے شی خو بیا هم دَ یو ورکوټی سُکان په وجه دَ مانګی دَ مرضئ په مُطابق


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګرزولے شی. ۵ هم دغه شان ژبه هم یو ورکوټے اَندام دے اَؤ ډیرے غټے
خبرے کوی.

ګورئ! په یو ورکوټی بخری سره په ځومره لوئے ځنګل کښے اور ولګی. ۶ اَؤ
ژبه هم یو اور دے، دا زمونږ په اَندامُونو کښے دَ شرارت یوه دُنیا ده، اَؤ په ټول
وجُود کښے بدی پیدا کوی اَؤ زمُونږ په ټول ژوندُون کښے اور لګوی، اَؤ په خپله
دَ دوزخ دَ اور نه بلیږی. ۷ ځکه چه هر قِسم ځنګلی ځناور، مارغان، چینجی
مینجی اَؤ دریابی ځناور خو دَ اِنسان په قابُو کښے راتلے شی اَؤ راغلی هم دی،
۸ خو هیڅوک ژبه په قابُو کښے نهٔ شی راوستلے. هغه یوه بلا ده چه چرے
ایساریږی نه، دَ مرګ کوُونکی زهر نه ډکه ده. ۹ هم په دے مُونږ دَ مالِک اَؤ پلار
ثنا کوُو، اَؤ هم په دے بنی آدمو ته چه دَ خُدائے په صُورت پیدا شوی دی،
ښیرے کوُو. ۱۰ دَ یکی یوے خُلے نه مُبارکی خبرے اَؤ ښیرے راوزی. اَئے
زما ورُوڼو! داسے نهٔ دی په کار. ۱۱ آیا دَ چینے دَ یکی یوے خُلے نه خوږے
اَؤ تروے اوبهٔ وزی څهٔ؟ ۱۲ اَئے زما ورُوڼو! آیا دَ اِینځیر په ونه کښے ښوُن، اَؤ
په انګُور کښے اِینځیر پیدا کیدے شی څهٔ؟ هم دغه شان دَ مالګینے چینے نه
خوږے اوبهٔ نهٔ شی راوتلے.

## دَ آسمانُونو حِکمت

۱۳ په تاسو کښے څوک هوښیار اَؤ پوهه شته دے؟ هغه دِ په خپلو کارُونو دَ
نیک چال چلن په وسیله اَؤ عاجزیٔ سره دِ دا خبره ثابته کړی، یعنے داسے
عاجزی چه دَ حِکمت نه پیدا کیږی. ۱۴ خو که تاسو په خپلو زړُونو کښے
سخته کینه اَؤ خودغرضی لرئ نو فخر مه کوئ اَؤ مه دَ حق برخلاف دروغ وایئ.
۱۵ دا هغه حِکمت نهٔ دے کُوم چه له آسمان نه راکُوزیږی بلکه دُنیاوی، نفسانی
اَؤ شیطانی دے. ۱۶ ځکه چه هر چرته چه کینه اَؤ خودغرضی وی، هلته فساد
اَؤ هر قِسم بدکار هم کیږی. ۱۷ خو چه کُوم حِکمت له آسمان نه راځی، اول خو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه پاک وی، بیا صُلح خوښوُونکے، نرم مزاجه، تربیت خوښوُونکے، رحم کوُونکے اَؤ دَ ښو میوو نه ډک، ناطرفداره اَؤ بے ریا. ⑱ اَؤ صُلح کوُونکی دَ صُلح سره داسے تُخم کری چه دَ صداقت میوے ترے پیدا کیږی.

## دَ دُنیا سره دوستی کوئ

۴ ① په تاسو کښے جنګ جګړے له کُومه راغلے؟ آیا دَ هغه خواهشاتو نه نهٔ دی کُوم چه ستاسو په اَندامُونو کښے فساد کوی؟ ② تاسو چه دَ کُوم څیز خواهش کوئ خو تاسو ته په لاس نهٔ درځی، ځکه خُون کوئ اَؤ کینه لرئ خو هیڅ حاصلولے نهٔ شئ. تاسو نښلئ، جنګیږئ، خو تاسو ته ځکه نهٔ ملاویږی چه له خُدائے نه ئے نهٔ غواړئ. ③ تاسو ئے غواړئ اَؤ مُومئ ئے نه، دا ځکه چه په بد نیت ئے غواړئ، چه په خپل عیش و عشرت ئے ولګوئ. ④ اَئے بے وفا خلقو! آیا تاسو ته معلُومه نهٔ ده چه دَ دُنیا سره دوستی لرل دَ خُدائے سره دُښمنی کول دی؟ نو بیا چه څوک دَ دُنیا دوست جوړیدل غواړی، هغه خپل ځان دَ خُدائے دُښمن کوی. ⑤ آیا تاسو دا ګنړئ چه مُقدس کِتاب بے فائدے وائی چه خُدائے هغه رُوح چه زمُونږ په زړُونو کښے اچولے دے، هغه دَ حسد خواهش لری څهٔ؟ ⑥ بلکه زیات فضل ورکوی، نو ځکه دا وایئ چه "خُدائے دَ کبرژنو مُقابله کوی خو عاجزانو ته فضل وربخښی."

⑦ نو بیا دَ خُدائے تابع شئ، اَؤ دَ اِبلیس مُقابله وکړئ نو هغه به درنه وتښتی. ⑧ که تاسو خُدائے ته ورنزدے شئ نو هغه به تاسو ته رانزدے کیږی. اَئے ګُناه ګارانو! خپل لاسُونه دَ بدو کارُونو نه صفا کړئ اَؤ اَئے دوه زړیو سړو! خپل زړُونه پاک کړئ. ⑨ اَفسوس اَؤ ویر وکړئ اَؤ ژاړئ، ستاسو خندا دِ په ویر بدله شی اَؤ ستاسو خوشحالی دِ په غم! ⑩ دَ مالِک په وړاندے عاجز شئ اَؤ هغه به تاسو سربلند کړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په ورور اِلزام لګول

۱۱ اَئے ورُوڼو! په يو بل پسے خبرے مه کوئ. څوک چه په خپل ورور پسے خبرے کوی يا په خپل ورور اِلزام لګوی، هغه دَ شريعت بد وائی اَؤ په شريعت اِلزام لګوی، اَؤ که تهٔ په شريعت اِلزام لګوے نو په شريعت عمل کؤونکے نه، بلکه په هغهٔ قاضی شوے. ۱۲ خو دَ شريعت ورکؤونکے اَؤ قاضی خو يکی يو دے چه دَ بچ کولو اَؤ دَ هلاکولو توان لری، خو تهٔ څوک ئے چه په خپل ګاونډی اِلزام لګوے؟

## دَ فخر په خلاف خبرداری

۱۳ تاسو چه دا وايئ چه "مُونږ به نن يا صبا فلانکی ښار ته لاړ شُو اَؤ هلته به يو کال ايساريږُو اَؤ په سوداګرئ کښے به ګټه کوُو،" ۱۴ اَؤ په دے نهٔ يئ خبر چه صبا به څهٔ کيږی، ستاسو ژوند څهٔ څيز دے؟ دَ يو بړاس په شان دے چه دَ لږ ساعت دَ پاره ښکاره شو اَؤ بيا ختم شو. ۱۵ دَ داسے وينا په ځائے تاسو ته دا وئيل په کار دی چه "که مالِک غواړی نو مُونږ به ژوندی پاتے شُو اَؤ دا يا هغه کار به هم وکړُو." ۱۶ خو اوس تاسو په خپلو ډُوزو فخر کوئ خو دا قِسم فخر کول بد دی.

۱۷ نو بيا که څوک په ښو کولو پوهيږی اَؤ نهٔ ئے کوی، دَ هغهٔ دَ پاره دا ګُناه ده.

## دولتمندو ته خبردارے

**۵** ۱ اَئے دولتمندو! زما واؤرئ، تاسو په خپلو هغه مصيبتُونو چه راتلُونکی دی، ژړا اَؤ فرياد وکړئ. ۲ ستاسو مال سخا شو اَؤ ستاسو جامے چينجو ووهلے. ۳ ستاسو سرهٔ اَؤ سپين زنګ شول اَؤ هغه زنګ به په تاسو ګواهی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوی اَؤ دَ اور په شان به ستاسو غوښه وسوزوی. تاسو په آخری ورځو کښې
خزانه جمع کړې ده. ۴ ګورئ! کُومو مزدُورانو چه ستاسو په پټو کښې لؤ
کړې دے، دَ هغوئ هغه مزدُوری چه تاسو ایساره کړې ده، چغې وهئ اَؤ دَ
لوګرو فریاد دَ قادر مُطلق خُدائے غوږُونو ته رسیدلے دے. ۵ تاسو په دُنیا
کښې عیشُونه اَؤ مزے وکړلے، اَؤ تاسو خپل ځانُونه دَ حلالیدو دَ ورځ دَ پاره
څاربهٔ کړل. ۶ تاسو صادِق سړے قصُوروار کړو اَؤ ومو وژلو، خو هغه
ستاسو مُقابله نهٔ کوی.

## صبر اَؤ دُعا

۷ نو اَئے ورُونړو! دَ مالِک تر راتلو پورے صبر وکړئ، ګورئ زمیندار دَ مزکے
دَ قیمتی فصل په اِنتظار کښې دَ منی اَؤ دَ سپرلی دَ باران تر وریدو پورے صبر
کوی. ۸ نو تاسو هم صبر وکړئ اَؤ خپل زړُونه مظبُوط کړئ ځکه چه دَ مالِک
راتلل نزدے دی.

۹ اَئے ورُونړو! دَ یو بل شکایت مه کوئ چه تاسو سزا ونهٔ مُومئ. ګورئ!
قاضی په دروازه کښې ولاړ دے. ۱۰ اَئے ورُونړو! کُومو نبیانو چه دَ مالِک په
نُوم کلام وکړو، هغوئ دَ تکلیفُونو تیرولو اَؤ دَ صبر کولو نمُونه وګنړئ. ۱۱ ګورئ
صبر کوُونکو ته مُونږ بختور وایُو. تاسو خو دَ ایوب دَ صبر حال آؤریدلے دے،
اَؤ دَ مالِک له طرفه چه دَ دے انجام وشو هغه مو هم معلُوم کړو، ځکه چه مالِک
ډیر مهربان اَؤ رحیم دے.

۱۲ خو اَئے زما ورُونړو! دَ ټولو نه لویه خبره دا ده چه قسم ونهٔ خورئ، نهٔ دَ
آسمان اَؤ نهٔ دَ مزکے اَؤ نهٔ دَ څهٔ بل څیز، بلکه دَ هو په ځائے هو وایئ اَؤ دَ نه په
ځائے نه، دَ پاره دَ دے چه دَ سزا لائق ونهٔ ګرزئ.

۱۳ که په تاسو کښې څوک غم زپلے وی نو دُعا دِ وغواړی، که خوشحاله وی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ثنا دِ ووائی. ﴿۱۴﴾ که په تاسو کښے څوک بیمار وی نو دَ جماعت مشران دِ
راوبلی اَوْ دَ هغهٔ دَ پاره دِ دُعا وغواړی اَوْ دَ مالِک په نُوم دِ هغه په تیلو غوړ کړی.
﴿۱۵﴾ اَوْ کُومه دُعا چه به په ایمان سره وغوښتے شی دَ هغے په وجه به بیمار بچ
شی، اَوْ مالِک به هغه پاڅوی اَوْ که هغهٔ ګُناهُونه کړی وی نو هغه به هم ورته
معاف شی. ﴿۱۶﴾ نو بیا تاسو په خپلو کښے یو بل ته دَ خپلو خپلو ګُناهُونو اِقرار
وکړئ اَوْ دَ یو بل دَ پاره دُعا وغواړئ چه شفا ومُومئ. دَ صادِق دَ دُعا په اثر ډیر
څهٔ کیدے شی. ﴿۱۷﴾ اِلیاس زمُونږ په شان اِنسان وو، هغهٔ ډیر په جوش سره دُعا
وغوښته چه باران دِ ونهٔ وریږی، ځکه خو درے نیمو کالو پورے په مزکه باران
ونهٔ وریدلو. ﴿۱۸﴾ بیا چه هغهٔ دُعا وغوښته نو دَ آسمان نه اوبهٔ ووریدے اَوْ په
مزکه فصل پیدا شو.

﴿۱۹﴾ اَئے زما ورُونړو! که څوک په تاسو کښے دَ حق دَ لارے نه واؤړی اَوْ بل
څوک هغه راواړوی، ﴿۲۰﴾ نو هغه دِ په دے پوهه شی چه څوک چه ګُناه ګار دَ
ګمراهئ نه راواړوی، هغه یو کس دَ مرګ نه بچ کوی اَوْ په ډیرو ګُناهُونو پرده
اچوی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
© pashtobibles.org عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.